د کانونو او پټرولیم وزارت
د جیولوجي سروې معینیت
د جیولوجیکي معلوماتو د مدیریت عمومي ریاست
د جیولوجیکي راپورونو د لنډیز آمریت

# اوسپنه او کانونه یې په افغانستان کې



## عمومي ځانګړتیاوې

اوسپنه د کیمیاوي (Fe) سمبول لرونکی او د تورو فلزاتو له ډلې څخه شمیرل کیږي؛ صنعتي ګټه اخیستنه یې د اوسني دور څخه (۳-٤) زره کاله وړاندې پورې رسیږي. اوسپنه څلور ایزوتوپه (٥٤، ٥٦ - ٥٨) لري چې (٥٦) یې په ځمکه کې ډیره پراختیا لري. له المونیم څخه وروسته دغه فلز د ځمکې په قشر کې تر ډیره پراختیا لري چې کلارک یې (٪٤,٦٥) دی. د اوسپنې ډیره کچه په انتروزیفي (عمقي) ډبرو کې چې ترکیب یې ماورای قلوي، قلوي او منځني ترکیب لرونکي ډبرو کې تر سترګو کیږي همدارنګه په ځینو متحوله ډبرو کې یې هم شتون په ډاګه کیږي.





## د اوسپنې مهم منرالونه

د اوسپنې منرالونه په طبیعت کې له (۳۰۰) ډولونو څخه اوړي چې مهم صنعتي منرالونه یې په لاندې ډول دي:

- مګنیتیت ($FeFe_2O_4$)، د اوسپنې کچه پکې (٪٧٢,٤)
- مارتیت ($Fe_2O_3$)، د اوسپنې کچه پکې (٪٧٠)
- هماتیت ($Fe_2O_3$)، د اوسپنې کچه پکې (٪٧٠)
- نصواري رنګه اوسپنه ($Fe_2O_3.nH_2O$)، د اوسپنې کچه پکې (٪٤٨-٦٣)
- سیدیریت ($FeCO_3$)، د اوسپنې کچه پکې (٪٤٨,٣)

## د اوسپنې کانونه په افغانستان کې

د اوسپنې کانونه او کاني څرګندیدنې په بامیانو، بدخشان، پنجشیر، پروان، هرات، غزني، غور، قندهار، میدان وردګو، کابل او د هیواد په یو شمیر نورو ولایتونو کې شتون لري.

## د ګټې اخیستنې وړ ځایونه

اوسپنه د صنعت په مختلفو برخو لکه په ترانسپورتي، ودانیزو، کرنیزو، طبي او نورو وسایلو کې کارول کیږي او د ډیر اهمیت لرونکی دی.




# د حاجیگک د اوسپنې کان




## موقعیت:

یاد کان د بامیانو ولایت اړوند چې له کابل څخه په (۱۳۰) کیلومترۍ کې موقعیت لري.




## د سیمې جیولوجي:

د (وهل) او (دوبریچ) جیولوجیکي نقشې په بنسټ چې مقیاس یې (۱:۱,۰۰۰,۰۰۰) ته رسیږي ښي چې د حاجیگک کان د اوسپنې اکسایدو زیرمه د نیو پروتروزوئیک دورې رسوبي ډبرو کې منځته راغلي دی چې د شین رنگ لرونکي شِست د فاسس او فیلیتي مرمرو، دولومیت، ریگ او میتا ولکانیکي ډبرو په ډول ښودل شوي دي. دلته (۱٦) بیلا بیل زونونه شتون لري چې د ځینو اوږدوالی یې (۵) کیلومتره پلنوالی یې (۳۸۰) متره ده او لاندې خواته یې امتداد (۵۵۰) مترو ته رسیږي. (۷) زونه یې په مفصله توگه تر څېړنې لاندې نیول شوي دي. په یاد کان کې کاني ډبره په په اولیه او اکسایدي بڼو باندې شتون لري. اولیه کاني ډبره یې له (۱۳۰) مترو څخه لاندې شتون لري چې تر ډیره پکې مگنیتیت او پیریت همدارنگه په لږه اندازه سلفایدي منرالونه لکه چالکوپیریت چې د اوسپنې کچه پکې (٦۱,۳) سلنه ده، هم شتون لري. پاتې (۲۰) سلنه یې د اوسپنې کاني ډبرې اکسایدي بڼه لري چې درې ډوله هماتیتي کاني ډبرو په درلودلو سره چې د اوسپنې اندازه پکې یو څه لوړه بریښي یعني (٦۲) سلنې ته رسیږي.

## د سیمې پراخوالی او اټکلي زیرمه:

د (یو اس جی اس) د راپور په بنسټ پراخوالی یې (۲,۰۷۹) کیلومتره مربع او د اوسپنې اټکلي سرچینه پکې تر (۱,۸) میلیارده ټنو پورې رسیږي.

## ټولنیز او چاپیریالي معلومات:

د نومورې کان ختیځو برخو کې پراخه ښارگوټي او په لویدیځه برخه کې یې ځای - ځای خلک هستوگن دي.

## د زیربناوو په اړه معلومات:

د کابل - بامیانو لوی سړک د نومورې کان په څنگ کې تیریږي.